ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

ګڼه ۲۳

نېټه: شنبه، د ربيع الثاني ۱۳ مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال



## سرليکنه



افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی چې د برېښنا د توليد له پاره پراخې سرچينې لري. په نړۍ کې د برېښنا د توليد له پاره په لومړۍ درجه کې اوبه او ور پسې د ډبرو سکاره، يورانيم، تېل او ګاز دي. له بېلا بېلو سرچينو څخه د برېښنا د توليد په اړه ترسره شويو څېړنو دا په ډاګه کړې چې افغانستان کولای شي له اوبو څخه ۲۳زره مېګاواټه، له لمر څخه ۲۲۳ زره مېګاواټه، له باد څخه ۶۸ زره مېګاواټه او له ګازو څخه ۶۰۰ مېګاواټه برېښنا توليد کړي.

اسلامي امارت د نورو برخو په شان د برېښنا په برخه کې هم د شته ستونزو د حل په موخه هلې ځلې پيل کړې دي. د کجکي بند د دوهم فاز د چارو بشپړول چې د برېښنا د توليد ظرفيت يې له ۱۰۰ مېګاواټو څخه ۱۵۱ مېګاواټو ته لوړ شو، د فراه د بخش آباد بند ۲۷ مېګا واټه، د هرات د پاشدان بند دوه ميګاواټه، د کمال خان بند له ۸ تر ۹ مېګاواټه، د کونړ د مناګي بند د ۲,۱ مېګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري چې د ټولو د پاتې چارو د بشپړولو کار روان دی. دغه راز د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د وږي په ۲۸مه د سروبي ولسوالۍ نغلو بند ته نږدې د ۱۰ مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژه پرانيستله. د کابل په ترهخېلو سيمه کې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا، ماليې وزارت د سپين بولدک ولسوالۍ په سرحدي ګمرک کې د شاوخوا ۲۱ مېليونه افغانيو په لګښت د لمريزې برېښنا د توليد پروژې پيل کړې چې په بشپړېدو به يې د برېښنا په برخه کې شته ستونزې يو څه حل شي. دغه راز له ډبرو سکرو او باد څخه د برېښنا د توليد په برخه کې له کورنيو او بهرنيو شرکتونو سره خبرې شوې دي چې کېدای شي په لنډ وخت کې يې عملي چارې پيل شي.

د اسلامي امارت هڅه داده چې د برېښنا په برخه کې هېواد پر ځان بسيا کړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل په سروبي ولسوالۍ کې له نغلو بند سره نږدې د لس مېګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې په پرانيستغونډه کې وويل، اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پياوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا توليد په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی او په ټولو پانګوالو يې غږ کړی، چې په کور دننه د برېښنا توليد په برخه کې پانګونه وکړي. نو له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت هڅه کوي د برېښنا د توليد له ټولو سرچينو ګټه پورته کړي، ترڅو وکولای شي چې هېواد له دې پلوه پر ځان بسيا او د هغو پيسو مخه ونيسي چې اوسمهال د برېښنا په بدل کې ګاونډيو هېوادونو ته ورکول کېږي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ازبيک پلاوي سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړرتبه امارتي مسوولينو د روان لمريز کال د عقرب مياشتې په ۷مه نېټه د ازبيکستان د لومړي وزير د مرستيال محترم جمشيد خوجه ييوف په مشرۍ له راغلي ازبيک پلاوي سره چې د کرنې، انرژۍ، اوبو مديريت، کانونو او ترانسپورت وزيرانو په ګډون د بېلابېلو سکټورونو استازو پکې حضور درلود، د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

په دغه ليدنه کې دواړو لورو په سوداګريزو، ترانزيټي او اقتصادي اړيکو سربېره د اوسپنې پټلۍ، ترانسپورت، په افغانستان کې د کانونو فني استخراج، د اوبو مديريت، د کرنې پراختيا او همدارنګه په ازبيکستان کې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د لوړو زده کړو زمينې برابرولو په اړه هراړخيز بحث وکړ.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وويل، افغانستان او ازبيکستان د تاريخ په اوږدو کې دوه ښه ګاونډي هېوادونه پاتې شوي او هر وخت يې په امنيتي، سياسي او اقتصادي برخو کې له يو بل سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړپوړو پلاوو تګ راتګ ښيي چې زموږ دوه اړخيزې اړيکې د لا پراختيا په حال کې دي او په دې سره به وتوانېږو چې د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې ښه پرمختګونه ولرو.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست پر بنسټ غواړي چې د سيمې په ترانزيټ کې مرستندوی رول ولوبوي او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره مو د لويو لارو پر بيارغوني سربېره لازمي اسانتياوې برابرې کړې دي، چې دا به د سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو په نښلولو کې ارزښتناک رول ولوبوي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، افغانستان د مرکزي آسيا هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزيټ په موخه د ازبکستان له مسيرونو څخه زياته استفاده کوي. په دې مسير کې د افغانستان پر محمولو باندې ترانزيټي فيس د نورو مسيرونو په مقايسه لوړ دی چې موږ يې د کمېدو غوښتنه کوو.

د محترم ملا صاحب په خبره، ددې لپاره چې افغانستان او ازبکستان د سوداګرۍ متوازن بېلانس ولري ښه ده، چې ازبکستان ته د افغانستان صادرات د پام وړ زيات شي او په دغه برخه کې ازبکستان د افغانستان لپاره ځانګړو ترجيحي تعرفو په نظر کې نيولو سره په ځينو مواردو کې له استثنايي دوستانه تعامل څخه کار واخلي.



د ازبک پلاوي مشر محترم جمشيد خوجه ييوف خپلو خبرو پر مهال وويل، ازبکستان له افغانستان سره د کرنې، ترانسپورت، ريل پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزيټ، اوبو مديريت او کانونو په برخه کې ګډې همکارۍ ته چمتو دی او په دغه برخه کې به د دواړو لورو تخنيکي کمېټې په ګډه سره کار وکړي.

محترم خوجه ييوف زياته کړه، ازبکستان ته د افغانستان د صادراتو د زياتولو په اړه ازبک لورې سوداګرۍ لارې نقشه جوړه کړې چې له مخې به يې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه شاوخوا دريو ميلياردو ډالر ته ورسېږي.

نوموړي همدا راز وويل چې دوی افغان سوداګرو او موټر چلوونکو ته د ويزو په ترلاسه کولو کې لازمي اسانتياوې رامنځته کړې، په نږدې راتلونکې کې به په تاشکند کې افغاني محصولاتو لپاره نړيوال نندارتون جوړ کړي او همدارنګه چمتو دي چې په ترمز کې افغان سوداګرو ته د سوداګرۍ يو لوی مرکز هم وسپاري.

د غونډې په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سره د ازبکستان له بشري مرستو مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ يې د دوه اړخيزو همکاريو پر زياتوالي ټينګار وکړ.

# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې د غړو وزارتونو او ادارو ترمنځ ګډه غونډه ترسره شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان لمريز کال د عقرب مياشتې په ۶مه نېټه په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې د غړو وزارتونو او ادارو ترمنځ په مرمرينه ماڼۍ کې ګډه غونډه ترسره شوه.

محترم ملا صاحب ټينګار وکړ چې له کابل ښار څخه دې په بشپړ ډول سوالګر راټول شي او تر ارزونې وروسته دې بې سرپرسته مستحقو سوالګرو ته په دوامداره ډول د نقدو او خوراکي توکو د مرستو رسولو لړۍ جاري وساتل شي.

محترم ملا صاحب زياته کړه چې اسلامي امارت د غريبو هېوادوالو او په ځانګړي ډول د سوالګرو ستونزو ته رسېدنه کوي او هڅه کوي چې د هغوی ستونزې حل او د يو سوکاله ژوند زمينه ورته برابره کړي.

همدا راز محترم ملا صاحب د دغه کمېټې ټولو مسوولينو او په ځانګړي ډول د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته لارښوونه وکړه څو د يادې کمېټې د کړنلارې مطابق خپل مسووليتونه په ښه ډول ترسره کړي.

په کابل ښار کې د سوالګرو راټولولو کمېټې له لورې پرېکړه وشوه، چې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت دې د جمعې لمانځه په خطبو کې د دغه عمل د دنيوي او اخروي زيانونو په اړه خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او د دغه پروسې مؤثريت په موخه دې خپل استازی يادې کمېټې ته ورمعرفي کړي.



# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې لومړنی کاري غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بین‌الـوزارتي کمېټه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهیر چټکتیا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنـځ د همغږۍ، د پانګونې لپاره د مناسـب چاپېریال رامنځته کولو، د چارو د ښه مدیریت لپاره د زمینې برابرولو، د پانګونې پروسو کې د چټکتیا او روڼتیا رامنځته کولو، د امـارتي ادارو او خصوصي سـکټور ترمنځ د همغږۍ ښه والي او په افغانستان کـې د پانګونې پروژو پـه اړه پانګوالو تـه د لازمو معلوماتو چمتو کولو په موخه جوړه شوې ده. د دې کمېټې د کاري فعالیت له پیل سره سـم اوسمهال کورني او بهرني پانګوال کولای شي د دغو معیارونو: (د طرحـې سرلیک، د طرحـې د وړاندې کوونکي پانګـوال/اداري نوم، د پانګــوال (حکمي/حقیقي شــخص) په اړه بشـپړ معلومات ( د شرکت جواز، آدرس، اړیکې شمېره، برېښــنالیک او د استازي د اســتازولۍ قانوني اســناد)، د طرحې پېژندنه، د طرحې موخــې، موخو ته د رسـېدو ځرنګوالی، د طرحې د پلي کولو لپاره د اړتیا وړ بودیجه او تمویل کوونکــې مرجع، د طرحې د پــلي کولو موده او له طرحې څخه د ګټې اخیســتنې موده)، په نظر کې نیولو سره خپلې طرحې په فزیکي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسـیون دارالانشاء ته راواستوي او پر دې سربېره يې پر دغه برېښنالیک(AIIMC@dpmea.gov.af) او اړیکو شمېرو سره (۰۷۷۰۹۸۵۱۰۰، ۰۲۰۲۱۰۰۹۷۶) هم رالېږلی شي.



ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونیزه

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو
په برخه کې د ریاست الوزراء
اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

نگاهی بر اهمیت نفت و ارزش اقتصادی

# نفت حوزۀ امو دریا

نویسنده: هدایت الله واحدی



**مقدمه**

از آن جایی که کارشناسان نقطه عطف تاریخ بشر را انقــلاب صنعتی می‌دانند، هــمان زمانی که چرخ تولید فابریکات صنعتی در انگلستان با استفاده از مواد سوخت بکر در آن زمان (زغال سنگ) سیستم اقتصادی دنیا را دچار تحولــی عظیم کرد و زغال سنگ نیروی محرکه تولید و توزیع محصولات در دنیا لقب گرفت. اما در اواسط دهه ۱۹۵۰ مواد سوخت دیگری با قابلیت‌های بســیار بالا نسـبت به زغال سنگ، پا به سیستم اقتصادی دنیا گذاشت و منبع کامیاب انرژی در دنیا شناخته شد. گستره حکومت نفت در تاریخ اقتصادی تا قرن بیســت و یکم ادامه داشت و در مناســبات سیاسی دنیا همواره نقشی تعیین‌کننده دارد. محصولات این ماده، سنگ زیر بنای جامعه مدرن، تأمیـن انرژی صنایع مختلف، تســخین منــازل و مهم‌تــر از همه حمــل و نقل محصولات و مردم را تشــکیل می‌دهد. در اقتصاد کشور های توسعه یافته، در حال حاضر ۹۷ فیصد تقاضای بخش حمل‌ونقل توسط منابع نفتی پوشش داده می‌شــود. به عقیده کارشناسان سهم نفت در انتقالات محصولات و لوازم دنیا به‌حدی است که به جرأت می‌توان گفت کــه تقریبا ۱۰۰ فیصد منابع مورد نیاز این بخش توســط نفت و گاز تأمین می شود. نفت در دنیای امروزی یک منبع مهم در تولید انرژی می باشــد و نقشــی مهمی در تعیین سطح قدرت های ملی و جهانی کشور های مختلف دارد. از آن جایی که نفت به مثابه کارا ترین منبع تأمین انرژی بشری امروزی شــناخته شده و در معادلات اقتصادی و سیاسی جهان، اهمیت راهبردی داشته و در پروسه روابط بین المللی نقش بسزای دارد. با درک این حقانیت امارت اســلامی افغانســتان که همواره در صدد یافتن راه های برای داشــتن یک اقتصاد بر پایه های وســیع است، به همین منظور سعی می کند تا از این منبع مهم و با ارزش استفاده برده تا مردم زجر کشیده و کشور آسیب دیده‌ای ما منبعد در فضای مصؤن و مرفه از لحاظ اقتصادی به سر ببرند. بناً در نوشته حاضر پیرامون اهمیت نفت و قرارداد اســتخراج و ارزش آن، به شــکل اجمالی نکاتی را جهت ارضای حس کنجکاوی علاقمندان به رشته تحریر در آورم.

**اهمیت نفت**

اگر زغال ســنگ ماشــین انقلاب صنعتی را به حرکت در آورد، نفت گذشــته از آن توانست پای انســان را به آسمان باز کند. از سفر به کره ماه و اکتشافات فضایی، تولید محصولات متنوع برای زنده گی بشر، کود هــای کیمیاوی، تکنالوژی، تراکتور برای افزایش رشد گیاهان و تولید ارزان تــر غــذا و انواع محصــولات به دســت آمده از پلاســتیک... همه و همه به واســطه اکتشاف و اســتخراج نفت میسر شــده‌اند. نفــت، تاریخ و اقتصــاد را دگرگون کرده اســت. حجم بیشــتر محصــولات از این مــاده مملــو از ارزش تأمین گردیده اســت، صنایــع مختلف جهــان تا حد زیادی وابســته به این ماده ارزشمند بوده و نفت نقشی کلیدی در سیستم اقتصادی دنیا ایفا می کند. از یک طرف کشور های دارای منابع نفتی تــا حد زیــادی سیســتم اقتصادی خــود را بر صادرات این ماده متکی کرده‌اند، از طرفی دیگر اقتصاد کشــور هــای وارد کننده نیــز متأثر از نوسانات قیمت نفت شده اســت. اگر بخواهیم دقیق‌تر بازار نفت را بررســی کنیم، مشاهده می شود که در کنار این امر که تعیین قیمت در بازار این محصول مبتنــی بر عرضه و تقاضای معمول در مسایل اقتصادی اســت، تحت‌تاثیر سیاست های کشــور ها نیز قرار می گیــرد. البته برخی کشــور ها نیز با رویــه‌ای اصولــی از این منبع ارزشمند برای توسعه کشــور خود بهره می‌برند، برای مثال کشور ناروی که همواره بر جایگاه‌های بالای رفاه اقتصادی در دنیا تکیه زده اســت، از نفت به‌عنوان یک ســپر محافظتــی در مقابله با

شوک‌ها و ورشکسته گی اقتصادی، همچنان یک منبع با ثبات بـــرای ثروت‌آفرینی به منظور تأمین مصرف ایجاد زیر بناهای لازم بهره می‌برد. امارت اسلامی نیز با گزینش سیاست اقتصاد محور می خواهد از عوایـــد این ماده با اهمیت، زیر بناها را در همـــه ابعـــاد بازســـازی و ایجـــاد نمایـــد که خوشبختانه کشـــور ما افغانستان در کنار داشتن ســـایر ذخایر طبیعی دارای منابع سرشاری نفت می باشـــد، بناً امارت اسلامی افغانستان همیشه در پی آن است تا راه های را جستجو نماید که به وســـیله آن بتوانـــد اقتصاد ورشکســـته و به رکود مواجه کشور را که میراث زمامداران و دولت های پیشین است، به پا ایستاد نماید و از ثمره‌ای آن به رفاهٔ مردم و کشور بپردازد.



### امارت اسلامی و قرارداد استخراج نفت

امارت اســـلامی افغانســـتان با تعهد که در برابر کشـــور و مـــردم دارد، همیشـــه در صـــدد آن تا مسیری را برای داشـــتن یک اقتصاد قوی سراغ کند و مردم که ســـال هـــای متمادی بالای گنج خوابیده اند ولی بدون گنج اند منبعد با استفاده از این تحفه های خدا دادی دیگر زجر ناتوانی را نکشنـــد و زمینه هایی را که در شرایط کنونی که می تواند اقتصـــاد افغانســـتان را حمایت کند، توســـعه داده و از عوایـــد آن در بخـــش هـــای اقتصادی بهره مند، اقتصاد کشور تقویت گردد و افغانســـتان در زمینه نفت به خود کفایی برسد. بنـــا بر همین هدف و امیدواری امارت اســـلامی قرار داد اســـتخراج نفت حـــوزه آمو دریا را با یک کمپنی چینایی به تاریخ ۱۵ جدی ۱٤۰۱ امضأ نمود. این قرارداد میان وزارت معادن و پترولیم و شرکـــت چینایی CPEIC در حضـــور محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاســـت الوزراء به امضأ رســـید. مســـاحت مجموعی این حـــوزه ٤٥۰۰ کیلومـــتر مربع بوده که شـــامل ساحات قشقری، زمردسای، بازارکمی، آق دریا و انگوت در ولایت های سرپل، جوزجان و فاریاب می باشـــد. بر مبنای معلومات، در پنج ســـاحه اکتشاف شده، ۸۷ میلیون بیلر تیل تخمین شده که با اکتشاف بیشتر ساحات، تولید روزانه پروژه نفت و گاز قشـــقری از ۲۰۰ تـــن به ۱۰۰۰ تن خواهد رســـید. بناً این مقدار واقعـــاً در کاهش قیمت نفت در کشـــور بی نظیـــر خواهد بود و به مرور زمان با اکتشـــافات بعدی افغانســـتان در بخـــش نفت خود کفا خواهد شـــد. ناگفته نباید گذاشـــت که پروسس تیل و مواد نفتی این حوزه در افغانســـتان صـــورت می گیـــرد و طبق این قرارداد، شرکت قراردادی در سال اول مبلغ ۱۵۰ میلیـــون دالر سرمایه گذاری می کند و ســـپس مجموعـــه سرمایه گذاری در ایـــن حوزه به ٥٤۰ میلیون دالر خواهد رســـید. قبل از آغاز کار این پروژه تخمین گردیده بود که با تطبیق این پروژه برای ۳ هزار تن زمینه شـــغلی نیز مســـاعد می شود، اکنون که کار استخراج نفت این حوزه آغاز و ادامه دارد و شـــماری از هموطنـــان ما در آن مصروف کار انـــد. قابل یادهانی اســـت، امارت اسلامی ۲۰ فیصد در این پروژه شریک است که در آینـــده این رقم تا ۵۷ فیصـــد افزایش خواهد یافت.از مفهوم بالا چنین اســـتنباط می شود که با ایـــن سرمایه گذاری هنگفت، روند اســـتخراج نفت این حوزه به شـــکل سیســـتماتیک و بدون مشکل جامهٔ عمل خواهد پوشید و از سوی دیگر زمینه کار برای هزاران هموطن ما فراهم خواهد شـــد که این خود در رشـــد اقتصاد کشور حایز اهمیت اســـت. وزارت معادن و پترولیم به تاریخ ۱۷ سرطـــان ســـال روان ۱٤۰۲ اعـــلام کرد که اســـتخراج نفت از چاه‌های بلاک قشقری حوزه آمو دریا در ولایت سرپل آغاز گردیده است. شیخ شـــهاب الدین دلاور وزیر معـــادن و پترولیم آغاز اســـتخراج نفت از این حـــوزه را یک گام مهم در جهت توســـعه اقتصاد کشـــور دانســـت و تاکید ورزید کـــه زمینـــه کار برای شـــماری زیادی از باشنده گان سرپل و سایر ولایت‌ها فراهم خواهد شـــد. قرار گفته همایون افغان، سخنگوی وزارت معـــادن و پترولیم در این حوزه در مجموع ۹ چاهٔ فعال وجود دارد که فعلا ظرفیت استخراج روزانه این چاه‌ها در حدود ۳۵۰ تن می‌باشد. به همین شـــکل وزارت معادن و پترولیـــم چندی پیش به تاریخ ۳۰ میزان ســـال روان از واگذاری قرارداد پروســـس چهل هـــزار تن نفت خام قشـــقری به ارزش بیســـت میلیون دالر به یک شرکت داخلی

خبر داد که این نقطه عطف در پروسس نفت خام در کشور است. به اســاس گفته های سخنگوی این وزارت روزانه از معدن قشــقری چهار صد تُن تیل اســتخراج می‌شود و تلاش دارند تا پروسس معادن به ویژه تیل در داخل کشــور انجام شود. همایون افغان سخنگوی این وزارت می افزاید که " یک تن نفــت خام ما در حــدود۵۰۰ دالر به فروش رسانده شده،که یک نرخ بلند در داوطلبی بوده و ٤۰ هزار تــن تقریبا به ارزش ۲۰ میلیون دالر به فروش رسیده اســت." بناً عوایدی که از این رهگذر بدست میاید، هنگفت به نظر میرسد، قرار معلوم روزانه استخراج ٤۰۰ تن نفت و قیمت هر تن آن ۵۰۰ دالر از ایــنرو روزانه مبلغ ۲۰۰ هزار دالر عاید به خزانه حکومت جمع می گردد، اگر ایــن رقم را در یک مــاه در نظر بگیریم ۱۲ هزار تن میرســد که ارزش پولی آن به ٦میلیون دالر بالغ می شــود که این رقم در ســال به ۷۲ میلیون دالر میرسد، که این مبلغ می تواند سبب رشد، توســعه و ثبات اقتصادی در کشور گردد و در کنار آن قســمی که گفتیم فرصت های کاری برای هزاران تن از شهروندان ما فراهم می گردد که این خــود در عاید سرانه تاثیــر گذار بوده و ســبب کاهش سطح بیکاری می شود. قابل ذکر است که افغانســتان پنج حوزه نفتی دارد و هم اکنون از حوزه نفتی آمو دریا تیل اســتخراج می شــود و تلاش از بهر استخراج تیل از دیگر حوزه های نفتی نیز جریان دارد.

## ارزش قرار داد استخراج نفت حوزۀ آمو دریا

مسلم است که نفت مهم ترین منابع تأمین انرژی در جهان امروزی شناخته شده است؛ از این رو نفت در معــادلات اقتصادی ـ سیاســی جهان اهمیت راهبردی دارد و در پروســه روابط بین الملل نقش مهمی می تواند ایفا کنند با وجود داشــتن منابع سرشار طبیعی در پائین ترین سطح اقتصادی قرار داشــته امضای این قرارداد برای مــا دارای ارزش بسزای است که در زیر به آن اشاره می کنیم:

۱- ثبات واحد پولی،
۲- تأمین مواد سوخت برای صنعت،
۳- تأمین اشتغال در کشور،
٤- تقویت اقتصاد ملی؛
۵-- به پا ایستادن وضعیت اقتصادی؛
٤- بازسازی و انکشاف مناطق معدنی کشور؛
۵- تشــویق سرمایه گــذاران خارجــی به سرمایه گذاری و دادن اطمینان؛
٦- تحصیل اعتماد به سطح ملی و بین المللی در خصوص حکومتداری خوب که مبین تلاش های خستگی ناپذیر مسوولین امور در راستای مسایل زیربنایــی که در آن پیشرفــت اقتصادی و قدمه های استواری به ســوی خود کفایی محسوس و مشهود است.
۷- افهام توانایی، تعهد و صداقت مسوولین امارت اســلامی افغانســتان برای بی بنیاد ثابت کردن شــایعات آنعده از دشمنان داخلی و خارجی که با نظــام در تضاد انــد که به ضم خود شــان امارت اسلامی توانایی کار و بهبود زنده گی مردم را ندارد.

همچنان محترم مــلا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاســت الــوزراء در مراســمی امضأی قرارداد «استخراج نفت حوزۀ آمو دریا » ضمن اشاره بر منابع عظیم طبیعی افغانستان در مورد اهمیت و ارزش نفت در جهان و کشور ما گفت که افغانستان از نظر منابع طبیعی یک کشور غنی در جهان است اما در کنار ســایر معادن، نفــت آن سرمایه مردم افغانستان است که اقتصاد کشور ما می تواند به آن تکیه کند.

نفــت مهمتریــن و در عین حال سیاســی ترین محصول اقتصادی جهان امروز به شــمار می رود و یکــی از منابــع مهم عوایــد برای کشــور های صادرکننده نفت و همچنان مــاده خام اصلی در پروسـۀ تولید در کشــور های واردکننده نفت می باشد. از سویی نوسان های قیمت نفت می تواند به دلیل وابســتگی زیاد آن به عوایــد نفتی،تأثیرات خاصی بر اقتصاد داشته باشد. به همین دلیل رشد اقتصادی و نیز عدالت اجتماعی بدون شک متأثر از عواید نفتی خواهند بود.



## نتیجه‌گیری

از مفاداتیکه در بالا گفته شد بر میآید که نفت ، مهم ترین منابع تأمین انرژی بشری امروزی است عواید حاصله از فروش نفت فرصت های اقتصادی را می‌آفریند. نیاز کشورهای جهان به منابع انرژی باعث گسترش روابط سیاسی و اقتصادی در صحنه بین‌المللی می‌گردد از سوی دیگر استخراج این منابع، کشور ها را به سوی خود کفایی سوق داده و متضمن رفاه و آسایش است. به همین هدف امارت اسلامی افغانستان قرار داد استخراج نفت حوزه آمور دریا را در جدی سال ۱٤٠۱با یک شرکت چینایی امضأ کرد تا مردم و کشور ما در آینده نه چندان دور در این زمینه نیازی به واردات نداشته باشند و از این طریق برای تقویت اقتصاد کشور ممد واقع شوند.

# در شهر کابل تا اکنون ٤٤٢٢٤ گدا جمع آوری گردیده است

کمیته جمع آوری گدایان علاوه از شهر کابل سلسله جمع آوری گدایان را در سایر ولایت های کشور مانند؛ ننگرهار، بلخ، نورستان، پکتیا و لوگر نیز آغاز نموده، که تا این دم هزاران گدا را جمع آوری نموده است.

این پروسه که نخست از شهر کابل شروع گردیده بود، به تعداد ٤٤٢٢٤گدا تا ۷ عقرب سال روان از ساحات مختلف شهر کابل جمع آوری گردیده است. از جملهٔ گدایان جمع آوری شده ۱٤۳۸٠زن ، ٦۷۸۱مرد و بقیه ۲۳٠٦۳طفل می باشند. در میان این اطفال ۷۲ تن آن بی سرپرست می باشند. اطفال بی سرپرست بعد از بایومتریک از طرف وزارت کار و امور اجتماعی شامل پرورشگاه گردیده و در آن جا علاوه از اعاشه برای شان زمینه آموزش نیز فراهم می گردد. قابل یاد آوریست که سلسلهٔ توزیع کمک های نقدی و مواد خوراکی ماهانه برای گدایان مستحق علاوه از شهر کابل در سایر شهرهای بزرگ کشور آغاز گردیده و این پروسه ادامه دارد.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۳,۷٠؋ | ۷۳,۷۵؋ |
| ۱٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ۲۵۱؋ | ۲۵۲؋ |
| ۱٠٠٠ | ایراني تومن | ۱,٤۸؋ | ۱,۵٠؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۸,٦٠؋ | ۷۸,۸٠؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۱,۲٠؋ | ۱,۳٠؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱٠٠٠ | هندی کلداري | ۹۸٠؋ | ۱٠۲٠؋ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ۹۲.٠٠؋ | ۹۲.۵٠؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۲۳,۵۵؋ | ۲۳,٦۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۲٤,۳٠؋ | ۲٤,٤٠؋ |
| ۱ | چیني ین | ۱٦,۵٠؋ | ۱٦,٦٠؋ |